# آيا د لمانځه لپاره اذان اورې؟" ويې ويل: هو، ورته يې وويل: نو (د اذان بلنه ومنه (يعنې جومات ته راځه

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته يو ړوند سړی راغی او ورته يې وويل: اې د الله رسوله، زه څوک نلرم چې لاس نيولی مې جومات ته راولي، نو له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يې غوښتنه وکړه چې په کور کې د لمانځه کولو اجازه ورکړي، نو اجازه يې ورکړه، کله چې روان شو غږ يې پسې وکړ، ورته يې وويل: " آيا د لمانځه لپاره اذان اورې؟" ويې ويل: هو، ورته يې وويل: (نو د اذان بلنه ومنه (يعنې جومات ته راځه.
[صحيح] [مسلم روايت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته يو ړوند سړی راغی ورته يې وويل: اې د الله رسوله، ما سره څوک نشته چې مرسته راسره وکړي او د پنځه وخته لمانځه لپاره مې لاس نيولی جومات ته راولي، غوښتل يې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم اجازه ورکړي تر څو جماعت پرېږدي (او په کور کې لمونځ وکړي) نو اجازه يې ورکړه، کله چې روان شو ورغږ يې کړ او ورته يې وويل: آيا ته د لمانځه لپاره اذان اورې؟ هغه وويل: هو، نو ورته يې وويل: کله چې بلونکی (موذن) د لمانځه بلنه درکړي، نو بلنه يې ومنه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/11287

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee